# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



انجنیر داؤد اڅک


۱۷ جولای ۲۰۲۵

## پښتنه انديوالي

نـه پـالــو پـه ژونـد انـډيـوالـي او دوسـتـانه
يو چي مو کنډؤ سي بيا نو کړو افسوس ناله

په ژوند ئي نه پوښتنـه کړو نه قدر نه کومک
اور پوري سه تر مرګ وروسته پداسي يارانه

چي ووينې په تا کي کومه هيله او اتره
درکړم نـو پوښتني هر ګړئ هره شپېه

بيداره ولس قدر د ناميانو کړي په ژوند
نـه ورپـسـي ژاړي پـر متزار او جنازه

په ژوند چي لاس نيوی نه وي د يار او د نګار
پـه هـجـر کـي فـريـاد وي بـي مفهومه هنګامه

نعمت او ارزښتونه تعريفيږي پر خپل وخت
نــوکــريــڅـــي دي د مـيـنـي اختريزه نذرانه

داؤده قدر وکــړه د خوبانو په ژوندون
څولی د نيازمند ډکه قدر سي د نازدانه

۱۶ ــ ۷ ـ ۲۰۲۵